د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه

امارت اسلامی افغانستان
ستره محکمه

قوه قضائيه

د دارالانشاء عمومي رياست
د تحريراتو آمريت
د متحدالمآلونو څانګه

د متحدالمآل ګڼه: ۱۹
نېټه: ۱۴۴۳/۱۲/۲۵ هق

☐عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليكم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د وزيرانو شورا په تاريخ۱۶/۱۰/۱۴۴۳هق مصادف۲۶/۲/۱۴۰۱هش د کابينې په غونډه کې د مصوبې نمبر(۳۳) د لومړي پريکړې په اساس داسي هدايت وکړ:

((د ستري محکمې د دارالانشاء د رئيس مفتي عبدالرشيد سعيد صاحب په مشرۍ د اراضي ادارې د قباله جاتو رئيس، د ماليې وزارت د املاکو رئيس، د عدليې وزارت د قضاياى امارت رئيس، د کابل ښاروالۍ د استازي او اړونده متخصصينو په ګډون پلاوي ته دنده سپارل کيږي، چې د شرعي قبالو د وېش څرنګوالي او په هغه کې د جعل او تزوير څخه د مخنيوي په هکله طرحه جوړه او د کابينې غونډې ته وړاندې کړي.))

د افغانستان اسلامي امارت د کابينې د پورته ذکر شوې پريکړې د هدايت مطابق د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي رياست رئيس، مفتي عبدالرشيد"سعيد" په مشرۍ، د اراضي ادارې د قباله جاتو محترم رئيس، د ماليې وزارت د املاکو محترم رئيس، د عدليې وزارت د قضاياى امارت محترم رئيس، د کابل ښاروالۍ محترم استازي او د نوموړې اداراتو اړونده متخصصينو په اشتراک د ستري محکمې په دارالانشاء رياست کې متعددې غونډې تر سره شوې چې په نتيجه کې (د قبالو د ويش د څرنګوالي، د جعل او تزوير د مخنيوي کړنلاره) په نه ويشت(۲۹)مادو کې ترتيب شوه او په تاريخ۲۸/۱۱/ ۱۴۴۳هق مصادف ۶/۴/۱۴۰۱هش د افغانستان اسلامي امارت د کابينې غونډې ته وړاندې شوه چې په اړه يې د کابينې د نمبر(۳۹) مصوبې لومړۍ پريکړه داسې وشوه:

((د قبالو د وېش څرنګوالي، د جعل او تزوير د مخنيوي کړنلاره تصويب ده. محکمو او اړونده ارګانونو ته دنده سپارل کيږي چې د همدې کړنلارې له مخې د قبالو ويش تر سره کړي.))

پورته ذکر شوې کړنلاره چې د افغانستان اسلامي امارت د کابينې د(۳۹)مصوبې مورخه۲۸/۱۱/ ۱۴۴۳هق مصادف۶/۴/۱۴۰۱هش د لومړۍ پريکړې په اساس تائيد شوې، د دې متحدالمآل مل په(۸) ورقو کې د افغانستان اسلامي امارت ټولو تميزونو ، ديوانونو مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره سي.

يادونه: د قبالې د ترتيب لپاره به ځانګړې ورقې د ترتيب او تنظيم څخه وروسته اړونده مراجعو ته واستول شي تر څو قبالې د هغه مطابق په الکترونکي ډول ترتيب کړي.

په درنښت

۲۵/۱۲/ ۱۴۴۳هق

مفتي عبدالرشيد "سعيد"
د ستري محکمې
د دارالانشاء رئيس


Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
تيلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹